مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۹/۳۰

# پاکستان او د افغانانو لپاره یې بل د شیطانی جال

نن سبا پاکستان په څومره بې حیایي او سپین سترګی سره، هیواد پرېښودلو ته مجبور او ناچاره افغان ځوانان، له ایران څخه پاکستان ته لیږدوي او څرنګه چې په خپله دغه ځوانان اعتراف کوي او ټولو افغانانو پر بیلابیلو خبري خپرونو، د هغوي خبري اوریدلي دي، چې د دري سوه ډالرو په بدل کې د پاکستاني پوځ له خوا، یوه یا دوه میاشتنۍ پوځي روزنه یې لیدلي او بیا د دیورند فرضي کرښې له لاري، زموږ کامدیش ولسوالی ته د همدي شیاد پاکستاني پوځ له خوا لیږدول شوي دي.

دا چې د پاکستان لاس وهني، زموږ د هیواد د ویجاړلو لړۍ اوږده ده او ټول هیوادوال څه چې نړۍ ته لکه د لمر روښانه ده.هغه نیابتي ډلي چې زموږ د داسي موضرو ګاونډیو په لاس لوبیږي، دوي هیڅکله هم د ولس ملاتړ نه شي تر لاسه کولی.

۱ـ لومړی دا چې پاکستان او ورسره ایران زموږ د هیواد په بربادۍ کې ستر رول ادا کړی، چې پاکستان په کې لومړی مقام لري.

۲ـ دا هم ټول مني چې ولس له طالباني حکومت څخه ناراضه دی، خو هیڅکله به د هغه ډلو شاته ونه دریږي، چې د پاکستان ملاتړ ورسره وي.۳ـ او بله خبره دا چې دغه ډلي ځانته تاریخي بد نوم ګټي چې هېڅکله به یې افغان ولس ونه بښي.

موږ د همدي دوښمن ګاونډي له خوا د سردار داود د جمهوریت له وخت راهیسي، د شومو دسیسو ښکار یوو. ایا دا یې وخت نه دی، چې په هیواد کې د واک پر ګدۍ ناست واکمنان، د هغوي داسي بربنډې لاس وهني او له وحشت ډک عمل ته غابښ ماتونکی ځواب ووایي.

موږ اوس هم په هیواد کې تکړه پیلوټان لرو او هغوي د دې وړتیا لري، چې داسي هوایي بریدونو ته ورته ځواب ووایي.لکه څرنګه چې تر اوسه یې، د نړی د ټولو قوانینو خلاف پاکستان زموږ پر هیوادوالو هوایي بریدونه کړي او بیوزله مظلوم هیوادوال یې راته په شهادت رسولی دي.

ځکه خو پر مجازي نړۍ زموږ هیواد وال په هیواد کې واکمنانو ته د انتقاد ګونه نیسي او د خپلو وژل شویو هیوادوالو د کسات اخیستلو غږ پورته کوي. د دوي وایي:

«داسي ښکاري، چې تاسي په نوم اسلامي امارت په ریښتیا د پاکستان نیابتي ډله یاست، چې ترهګر روزونکی پاکستان دومره جرات موندلی، چې له ۲۰۲۳ م کال راهیسي په پرله پسي ډول زموږ هوایي حریم نقضوي او د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف، عام وګړي مو وژني.»

دغه ځزګندونو ته په پام سره، دوي یوازې وژنه نه بلکې نسل وژنه کوي.د کونړ، پکتیا، پکتیکا، خوست ، کندهار په ولایتونو کې چې عامه تاسیسات بمبار کړي، په کابل ښار کې د روږدو کسانو د درملني پر مرکز هوایي بریدونه، نسل وژنه ده، چې په یوه شپه یې ځلورسوه بې ګناه انسانان د مرګ کومي ته ټیل وهلي دي.دا په واک کې، د هر حکومت مسؤلیت دی، چې د دې ډول عامه وژنې غږ یې تر نړیوالي محکمې رسولی وایي او د پاکستان د ظلم او وحشت لپاره یې د سزا غوښتنه کړې وایي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ځکه خو افغانان وايي چې، ستاسي ځوابي بريدونو زيان په روښانه ډول نه دی ليدل شوی. يوازې په اعلانونو چې فلانکی پوسته ويجاړه شوه او ورته تبليغات، د عام ولس غصه نه سړوي.

همدا يې وخت دی، کلک او غاښ ماتونکی ځواب په کار دی. هره ورځ چې په پاکستان کې، د پوځي چارواکو له ظلم او تيري څخه ناراصه ولسونه پاڅون کوي او د خپل حق ادعا، دوی يې ټول انساني کرامت ته سپکاوی کوي، وژني يې، تښتوي او له کوره يې تري تم کوي. لکه بلوڅ، پښتانه او نور، چې په ډير فقر او بيوزلی کې ژوند کوي او د غړ پورته کولو حق نه ورکول کيږي. تل مدام د دغه مظلوم ولس انساني کرامت ته سپکاوی کيږي. حال دا چې د بلوڅو او پښتنو سيمې ټول معدنيات، اوبه، ګاز او تيل همدا د پاکستان جنرالانو جيبونو ته ځي او د هغوي په وژلو او له منځه وړلو لاس پورې کوي. دغه مظلوم ولس ته بله لار نه ده پاتې چې ګوريلايي جګړې ته مخه کړي او دوي بيا راځي د خپلو جنابتونو د پايلو پړه زموږ په هيواد کې پر حاکم رژيم اچوي.

زموږ د هيواد والو د صبر کاسه نسکوريدلو ته نږدې شوې، په هيواد کې حاکمان دې خپل دريځ روښانه کړي، که نه نو، پايله به يې هيڅ ښه نه وي.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ